مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملكزى ۲۰۲۴/۰۶/۰۸

# په لپو کې، د فکرونو درمندونه




(يو څو لپې فکرونه) د يو داسي دروند قلموال د مقالو ټولګه او د فکري ارزونو نچوړ دی چي د خپلې ټولني په نبض آګاه، په دردونو يې دردمند او په خوښی يې خوښ دی. کله چي موږ د پښتو د معاصر نثر د عروج او ارتقاء خبره شاربو، نو يو له هغو نومونو څخه چي سمدستي زموږ د ذهن په تاخچو کې ښکته پورته شي، هغه د اديب، شاعر او ليکوال، اسدالله غضنفر نوم دی. نوموړی د هندوکش د پوري غاړې په يوې سترګه ورې، شمله ورې او خوله ورې کورنی کې سترګې غړولي دي. د دغه وطنپال او فرهنګپال کهول مشر، استاد محمد صديق پسرلی دی چي ما له ده او مرحوم عبدالله غمخور صيب سره يوځای په پيښور کې ليدلی وو.
د ارواښاد پسرلي هر زوئ، د خپل وياړلي پلار په پل، پل ايښی او زموږ د فولکلوريک ادب او هنري ژانرونو په ودې او پراختيا کې يې غوښن رول لوبولی دی. د دوئ په دوديزې شاعری او سليسي ليکوالی کې د طبيعت ښکلا ځليږي، له باورونو او ارزښتونو څخه دفاع کيږي او له انسان او انسانيت سره د ميني څرکونه په کې تر سترګو کيږي. ښايي دا به تصادف وي چي زه او ښاغلی غضنفر په يوکال کې زيږيدلي يو او دواړو د پيښور له پوهنتون څخه ماستری اخيستی دي؛ خو په دې خبرې مي سر نه خلاصيږي چي په دې کتاب کې د ۶۳ مقالو راټولول د حضرت پيغمبر صيب د عمر د کلونو په شمير د تبرک علامه ده که دا هم يو تصادف وګڼو؟
د کونړ خلک رواج لري چي د درمند په ورځ، ماشومانو ته په لمن کې يوه لپه غنم ور اچوي چي الوچي او الوکانړ پرې واخلي. خو غضنفر په دې کتاب کې، نوي ليکوال کول ته د نثر داسي درمندونه ډالی کړي چي سليقه، ذائقه او ځانګړې کليواله محاوره ورسره مل ده. نوموړي په دې ټولګي کې د رازونو بڼ ته سر ورښکاره کړی، ابن الوقت يې راپيژندلی، د سانسور ګټې يې په ګوته کړی او د کلتور ځينو ناخوالو اړخونو ته تم شويدی. له وطنه د وتلو وطنوالو په جلاوطنی يې خاطر ځوريدلي او ورپسي د وحدت الوجود او وحدت الشهود د لواړګيني بابا مزار ته تللی دی. د ټولني له بې انصافيو څخه يې د پردې د پورته کولو ښايستوکي هڅه کړې او د شرم، ګناه او جرم قانوني او ديني اړخ يې په لنډو، خو معنا دارو کربښو کې تعريف کړيدی.
ليکوال ځای ځای، د خپلې جنتي ځوانی، حسرتونو، ماښامونو، ونو او وګړو خوږې ترخې د خپلې حافظې په يو کونج کې سمبال ساتلی او په خوند خوند يې يادونه کوي. که ټولنيزې ستغې سپورې او ناکردې يې په ډير مهارت سره د خپلو لوستونکو مخ ته ايښي، نو د سياست شا يې هم ګرولي ده. پخپلې سريزې کې د شهيد داود خان د جمهوريت په کلونو کې د يوې روښانه سبا په اړه دومره داډه بريښي چي د جګړې او مصيبت په نوم هيڅ ډول بلا به په دې وطن رانازله نه شي. خو اوس چي د سر او ږيرې ويښتان يې په سپينيدو دي، وايي: « د جمهوري نظام راوستونکو دې ته پام نه وو کړی چي د سلطنت موسسي خو خپل اعتبار له دود او تاريخ څخه اخيسته؛ جمهوريت که انتخابي نه وي نو مشروعيت به له چا څخه اخلي؟»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د خلق او پرچم د کودتا په اړه وايي: « آن که د ثور کودتا هم نه وای شوې، د حالاتو د بحراني کېدو او د وطنوالو د پریشانی مخنیوی مشکل وو. بې ثباتي را روانه وه خو موږ نه لیدله. زموږ دولتي نظام، زموږ منوري طبقي او زموږ عام ولس درې واړو لويې ستونزې لرلې. زموږ د ټولني بله لويه ستونزه دا وه چې اکثرو منورینو، د سیاست شوقیانو او د ګوندونو غړو ته موجود ثبات د لمر د راختو او پريوتو په څير يو طبيعي جريان ښکاريده. بله ستونزه دا وه چې موږ ته د نوي تمدن وسایلو خوند را کاوه، خو دېته په آسانه حاضر نه وو چې د خپل ژوند طريقي ورسره برابرې کړو. جاپانی راډيو، سويسي ساعت او جرمني موټر لرلو ته مو سودا شوه، خو دا سودا را ونه لويده چې دغو ملتونو دا ترقي څنګه وکړه ؟»

دوستانو، سره د دې چې ما لا ټول کتاب نه دې لوستي، خو دا متل راته سم د کاني کرښه ښکاري: (سالی که نکوست، از بهارش پیداست). د خال خال عنوانو له انتخابولو او لوستلو وروسته؛ زه يوه وربشه شک هم نه لرم چې نالوستي مقالي به د لوستل شوو څخه سيوا، هر اړخيزې او لازياتي مزه داري وي. که څوک د پښتو د کليوالي، رواني او خوږې ليکوالی د هنرونو، ټولنپوهني د رمزونو او تاريخي رازونو څخه د خبريدو تلوسه لري، نو زه په ګرنټی سره ورته وايم چې د دې کتاب په لوستلو به نه ستومانه شئ او نه پښيمانه. د ذلک الکتاب او رښا د ستر خالق څخه؛ ښاغلي اسدالله غضنفر ته د لازياتو پنځونو، ځيرنو او ليکونو توفيق غواړم. قلم يې تل له رنګونو او ذهن يې له رنګينو خيالونو ډک. همدا شان، په پای کې د ګران دوست، نصير رښتين منندوئ يم چې تيره ورځ د تعليمي سيمينار په پاي کې سټيج ته راغی او په غوږ کې يې راته وويل: اشنا، د غرمنی ميلمستيا په ځای، همدا کتاب درته ډالی دی چې د فکرونو سمندر يې په کوزه کې ځای کړی او د ټوپک په ځای يې د قلم مينه والو ته د ليکني سوغاتونه په لپو کې ويشلي دي.

---

يادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولاې شي د ملکزي نوري ليکني او ځيرني د هغه په فيسبوک، لنکد ان او د يوټيوب په چينل کې ولولي او وګوري؛ ادرس يې دا دی: Wali Malakzay

د ليکوال نوري ليکن ليکني په دی لينک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ